د امیر اهلسنت د کتاب "د نیکۍ دعوت نه د اخستې شوې مواد شپږم قِسط

(پښتو)

# د غُسل ضروري مسائل




- د w.c رُخ صحیح کړئ 05
- باران کښې لامبل څنګه 05
- ځنګل کښې جُمات 07
- د بهترین بنده خصوصیات 13
- د خوابښې او هنګور په مینځ کښې د صُلحې راز 16



شیخ طریقت، امیر اهلسنت، باني دعوت اسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بلال

مُحَمّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوي

دامت برکاتهم العالیة

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

# د كتاب لوستلودُعا

ديني كتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښې دا لاندې دُعا لولئ اِنۡ شَآءَاللّٰه څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتې كيږي:

اَللّٰهُمَّ افۡتَحۡ عَلَيۡنَا حِكۡمَتَكَ وَانۡشُرۡ عَلَيۡنَا رَحۡمَتَكَ يَا ذَاالۡجَلَالِ وَالۡاِكۡرَام

ترجمه: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه د عِلم او د حِکمت دروازې برسيره [يعني بيرته] كړې او په مونږه خپل رحمت رانازل كړې! اے عظمت او بزرګۍ والا!

(مستطرف ج ص۰ دار الفكر بيروت)

طالب غم
مدينہ بقيع
ومغفرت

(اول او آخر كښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

د رسالے نوم: **د غُسل ضروري مسائل**

اول ځل: ..............

تعداد: ..............

ناشِر: مَكۡتَبَةُ الۡمَدِيۡنَه عالمي مدني مركز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه كراچئ.

مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالے چاپ كولو اجازت نشته

كتاب اخستونكي توجّه اوكړئ

كه د كتاب په طباعت كښې څه ښكاره خامي وي يا پاڼړې كمې وي يا په بائنډِنګ كښې مخكښې وروسته لګيدلې وي نو مَكۡتَبَةُ الۡمَدِيۡنَه ته رجوع اوكړئ.

# د غُسل ضروري مسائل

شيخِ طريقت اَميرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه دا رِساله "غُسل کے ضروری مسائل" په اردو ژبه کښې ليکلې ده.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالے په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب دَ ترجَمه کولو کوشش کړے دے. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي يا کمے، زياتے اوموميئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دے چه مجلس تراجِم ته خبر اوکړئ او د دوارِو جهانو ثواب حاصل کړئ

## پیشکش:

## مجلسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

مضمون د نيکۍ د دعوت (پښتو) د صفحه 114 تا 134نه اخستے شوے دے

# د غُسل ضروري مسائل

**دُعائے عطّار:** يا الله پاکه! څوک چې د 24 صفحودا رساله [د غُسل ضروري مسائل] اولولي يا واوري هغه د ظاهري او باطني ټولو ګندګو نه پاک کړې.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرود شريف فضيلت

د الله پاک د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالي شان دے: بيشکه د قيامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته زيات نزدے هغه وي څوک چې په ما باندې د ټولو نه زيات دُرُود شريف اولیږي. (ترمذي ج ۲ ص ۲۷ حديث ۴۸۴)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! د اوياؤ کالو يو اِسلامي وررور د مَدَني قافِلے والؤ په مَدَني حلقه کښې شريك شو نو هغه ته د غُسل د فرائِضو په باره کښې ورومبي ځل معلومات اوشو، هُم دغسې معلومه نه ده څومره مسلمانان به داسې وي چې هغوئي ته به دا احکام نه وي معلوم. لِهٰذا په دې باره کښې د نيکۍ د دعوت د ثواب ګټلو په

نِيَّت د غُسل طريقه (حَنَفى) وړاندې کووم، چنانچه د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اداري مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه کتاب، "د لـمانځه آحکام" د [رسالے "**د غُسل طريقه**" د] صفحه **3** نه شروع کيدونکي مضمون نه د ضروري رَدّ و بدل کولو سره عرض دے: د نِيَّت نه بغير به هُم غسل اوشي خو ثواب به نه کيږي، ځکه د ژبې خوزولو نه بغير په زړه کښې داسې نيّت اوکړئ چې زه د پاکئ حاصلولو د پاره غُسل کووم. **مخکښې** دواړه لاسونه د ګِيټو [مړوندونو] پورې درې درې ځله اُووِينځئ، بيا د استنجا ځائے اُووِينځئ که نجاست پرې لګيدلے وي او که نه، بيا که په بدن چرې نجاست لګيدلے وي نو هغه لرې کړئ بيا د لـمونځ په شان اودس اوکړئ خو ښپې مه وِينځئ، خو که په چوکئ (کټکي) وغيره باندې غُسل کوئ نو بيا ښپې هم اُووِينځئ، بيا په بدن باندې د تيلو په شان اوبه ومږئ، خصوصاً په جمې کښې (په دې دوران کښې صابُن هم لګولے شئ) بيا درې ځله په ښئ اُوګه باندې اوبه اوبهيوئ بيا درې ځله په چپه اوګه باندې، بيا په سر او په ټول بدن باندې درې ځله، بيا د غسل د ځائے نه جُدا شئ، که د اودس په وخت کښې مو ښپې نه وې وِينځلي نو اوس ئې اُووِينځئ، په لامبلو کښې قبلے ته مه مخ کوئ، په لامبلو کښې په ټول بدن باندې لاس راښکاږئ او مږئ ئې،په داسې ځائے کښې لامبئ چې څوک مو نه وينې او که داسې [ځائے] نه وي نو نارينه دِ خپل ستر (د نامه نه واخله د دواړو زنګونانو سره) په څه پيړه کپړه باندې پټ کړي، که پيړه ټوټه نه وي نو د ضرورت مطابق دِ دوه يا درې کپړے د ځان نه راتاؤ کړي ځکه چې که نرئ کپړه وي نو اوبو سره به په بدن پورې اونښلي او مَعَاذَالله [يعني د الله پناه] زنګونان يا ورنونه به پکښې ځليږي. زنانه ته خو نور هم د ډير احتياط ضرورت دے. د غسل په دوران کښې هيڅ قِسم خبرې مه کوئ،

څه دُعا هم مه لولئ، د لامبلو نه پس په توليه وغيره باندې بدن وچولو کښې څه باک [حرج] نشته،د لامبلو نه پس فوراً کپړے واغوندئ. که مکروه وخت نه وي نو دوه رکعته نفل ادا کول مُستحب دي. (عالمګيري ج۱ ص۱٤، ماخوذ بهارِ شرِيعت ج۱ ص۳۱۹ وغيره)

## د غُسل درې فرائِض

﴿۱﴾ خُله وِينځل [يعني په خُله کښې اوبه اچول] ﴿۲﴾ په پوزه کښې اوبه خيژول ﴿۳﴾ په ټول ښکاره بدن باندې اوبه بهيول. (فَتاوٰی عالمګيري ج۱ ص۱۳)

## ﴿۱﴾ خُله وينځل (يعني په خُله کښې اوبه اچول)

په **خُله** کښې لږې شان اوبه اچول او هغه تُوکل خُله وِينځل نه دي بلکه چې د خُلې په هره پُرزه، په هرګُټ، د شُونډو نه واخله د حَلق د جرړې پورې په هرځائے اوبه اوبهيږي. هم دغه شان د [جامو] د غاښونو شاته د اننګو [يعني د مَخ] دننه طرف باندې، دغاښونو په سُورو او جرړو او د ژبې په هره ډډه باندې بلکه د حلق د غاړې پورې اوبه اوبهيږي.که روژه مو نه وي نو غړغړه هم اوکړئ ځکه چې دا سُنَّت ده. که په غاښونو کښې مو د چاليه دانے يا د غوښې تِيلۍ نښتي وي نو هغه راخلاصول ضروري دي. خو که په راخلاصولو کښې دَ ضَرَر (يعني نُقصان) ويره وي نو معاف دي. د غُسل نه مخکښې که په غاښونو کښې تِيلۍ وغيره محسوس نه شوے او پکښې پاتې شوي وې او لمونځ ئې هم اوکړو، وروستو معلومې شوے نو هغه دِ راخلاصې کړي او اوبه بهيول پرې **فرض** دي. مخکښې ئې چې کوم لمونځ کړے وو هغه اوشو. کوم ړقيدلے غاښ که په مساله ټينګ کړے شوے وي يا په سِيم تړلے شوے وي او د سِيم يا مَسالے نه لاندې اوبه نه رسي نو معاف دي. (بهارِ شريعت ج۱ ص۳۱٦،

فتاوٰي رَضَوِيّه مُخرَّجه ج۱ص۴۳۹،۴۴۰ په څه طريقه چې دغُسل دپاره يو ځل خُله وِينځل فرض دي په دغه طريقه دري ځله خُله وِينځل په اودس کښې سُنَّت دي.

## (۲) په پوزه کښې اوبه خيژول

**په تادئ تادئ** د پوزې سر ته اوبه لګولو باندې کار نه کيږي بلکه د کوم ځائے پورې چې نرم ځائے دے يعني د سخت هډوکي د شروع پورې وِينځل لازمي دي. او دا هله کيدے شي چې اوبه دبوئ کولو په شان پورته راښکارږئ.داخيال ساتئ چې د وِيښته همره ځائے هم د وِينځلو نه پاتې نه شي ګني غُسل به نه کيږي. په پوزه کښې دننه که د پوزې اوبه اوچې شوي وي نو د هغې راخلاصول فرض دي. او د پوزې د وِيښتو وِينځل هم فرض دي. (اَيضاًص۴۴۲،۴۴۳)

## (۳) په ټول ښکاره بدن باندې اوبه بهيول

د **سر** وِيښتو نه واخله د ښپو د تَلو پورې د بدن په هره **پُرزه** او هر هر ځائے باندې اوبه بهيدل ضروري دي، د بدن ځيني ځائيونه داسې دي چې که احتياط ونکړے شي نو هغه به وچ پاتې شي او غُسل به ونشي. (بهارِشريعت ج1ص۳۱۷) د اودَس، غُسل، لـمانځه، د جُمعې د لـمانځه، د قضا لـمونځونو، د سفر د لـمانځه، د جنازې د لـمانځه وغيره په باره کښې ضروري احکام زده کولو د پاره د دعوتِ اسلامي د اشاعتي اِداري مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه چاپ شوے کِتاب "د لـمانځه اَحکام" ولولئ.

## په روانو اوبو کښې د غُسل طريقه

که په روانو اوبو مثلاً په درياب، يا نهر کښې ئې ولامبل نو په هغې کښې د لږ ساعت تيرولو سره به د دري ځله وِينځلو ترتيب او اودس، دا ټول سنّتونه ادا شي. د

دي هم ضرورت نشته چې اندامونو ته درې ځله حرکت ورکړے شي.که په تالاب وغیره ولاړو اوبو کښې ئې ولامبل نو اندامونو ته درې ځله حرکت ورکولو یا ځائے بدلولو سره به تَثلِیث (تَثْ ـ لِیْ ـ ثْ) یعني د درې ځله وِینځلو سُنّت ادا شي. په باران کښې (یا د نل یا فُوارې لاندې) ودریدل په روانو اوبو کښې د ودریدلو په حکم کښې دي. په روانو اوبو کښې ئې اودس اوکړو نو هم هغه لږ ساعت په هغې کښې اندام حصارول او په ولاړو اوبو کښې حرکت ورکول د درې ځله وِینځلو قائِم مقام دي. (بهارِ شرِیعت ج١ ص٣٢٠) د اودس او د غُسل په دې ټولو صورتونو کښې خُله وِینځل او په پوزه کښې اوبه خیژول ضروري دي.

## فَوّاره د جاري اوبو په حکم کښې ده

فَتاوىٰ اهلِسُنّت (غیرمطبوعه) کښې دي: د فوّارې (یا نل) نه لاندې غسل کول په جاري اوبو کښې د غسل کولو په حکم کښې دي لِهٰذا د دې نه لاندې د غسل کولو په وخت کښې که د اودس او غسل کولو د وخت همره حِصار شو نو د تَثلِیث (یعني درې ځله وِینځلو) سنّت به ادا شي چنانچه په ''دُرِّمُختار'' کښې دي: که په روانو اوبو، غَټ حوض [یعني تالاب] یا په باران کښې د اودَس او غُسل کولو د وخت همره حِصار شو نو هغه پوره سُنّت ادا کړل. (دُرِّمختار ج١ ص٣٢٠) یاد ساتئ! په غُسل یا اودس کښې خُله وِینځل او په پوزه کښې اوبه خیژول وي.

## دَ فَوّارې احتیاطونه

**که** ستاسو په غُسل خانه کښې فوّاره (SHOWER) وي نو هغه په بنه طریقه سره اُوګورئ چې د هغې طرف ته مخ کولو کښې په بربنډه لامبلو کښې مخه یا شا خو د

قبلے شریف طرف ته نه کیږي! په اِستِنجا خانه کښې هم د دې احتیاط کوئ. د قبلے طرف ته مخه یا د شا کیدو مطلب دا دے چې د ٤٥ درجه په زاویه کښې دننه دننه وي. لِهٰذا دا احتیاط هم ضروري دے چې د ٤٥ ډګرې د زاویه (ANGLE) نه باهر وي. د دې مسئَلے نه اکثر خلق ناخبره دي.

## د W.C رُخ صحیح کړئ

**مهرباني** اوکړئ د خپل کور وغیره د ډبلیو. سي (W.C) او فوّارې [شاور] رُخ که غلط وي نو د دې اصلاح اوکړئ.زیات احتیاط په دې کښې دے چې W.C د قبلے نه د 90 په درجه باندې یعني په لـمانځه کښې د سلام ګرځولو په طرف کړئ [یعني د قبلے نه داسې په ډډه چې بولو ته ناست ئې او د سلام ګرځولو په شان خپلې اُوګے ته اُوګورئ نو ستاسو مخ قبلے ته راشي]. کیلګار عام طور د تعمیراتي سهولت او د ډیزائِن خیال ساتي د قِبلے د آدابو پرواه نه کوي. مسلمانانو ته د مکان د فاني بهترئ په ځائے د آخرت په حقیقي بهترئ باندې نظر ساتل پکار دي.

کچھ نیکیاں کمالے جلد آخرت بنالے بھائی نہیں بھروسا ہے کوئی زندگی کا
(وسائلِ بخشش ص ١٨٥)

زر زر اوکړه څه نیکئ آخِرت جوړ کړه زما وروره د مرګې وخت معلوم نه دے

## غُسل کول کله سُنّت دي؟

د جُمُعې، د وړوکي اختر، د غټ اختر او د عَرَفے په ورځ (یعني 9 ذُوالحجّةُالحرام) او د اِحرام تړلو وخت کښې غسل کول سُنَّت دي. (فتاوىٰ عالمګیري ج١ ص١٦)

## په باران كښې غُسل

د **خلقو** په مخكښې د سِتر ښكاره كيدو په حالت كښې لامبل حرام دي. (فتاوٰی رضویّه ج۳ص۳۰۶)
په باران وغيره كښې چې هم لامبئ نو د پاجامې يا پرتوګ د پاسه بل رنګِين پيړ څادر راتاوهئ چې كه پاجامه [يا پرتُوګ] د اوبو په وجه [په بدن پورې] اونخښلي نو چې د ورنونو وغيره رنګ پكښې نه ځليږي.

## د تنګ لِباس والا طرف ته كتل څنګه دي؟

د **تيزې** هوا لګيدو په وجه يا په باران كښې يا د سَمندر په غاړه يا په نهر وغيره كښې اګر كه پيړو جامو كښې لامبي او جامې [په بدن پورې] داسې اونخښلي چې د سِتر د يو پوره اندام مَثلاً د ورون مكمل چاپيره هَيئَت (ګولائي) پكښې معلوميږي په داسې حالت كښې د بل چا د پاره دغه اندام ته د كتلو اِجازت نشته. هم دا حكم د تنګ لِباس والا كس د سِتر يو راوتلي پوره اندام طرف ته د كتلو دے.

## په بربنډه لامبلو كښې ډير احتياط

په **غسل خانه** كښې چې يواځې بربنډ لامبئ يا په داسې پاجامه [يا پرتوګ] كښې لامبئ چې د هغې د [بدن سره] د نَښتو په وجه د ورنونو وغيره رنګ ځليدے شي نو په داسې حالت كښې قبلې طرف ته مخ يا شا مه كوئ.

## په بالټي د لامبلو په وخت كښې احتياط

كه د بالټي په ذريعه غُسل كوئ نو احتياطاً هغه په چوكئ (STOOL) وغيره باندې كيږدئ چې بالټي ته څاڅكي نه كيږي او په غسل كښې د استعمالو والا مَګ [يعني د لاستي لوټه] په فرش باندې مه كيږدئ.

## ټول کلے کِیره خَرَئیلے!

د سُنَّتو د تربِيَّت ديوېمياشتېيوه مَدَني قافِله د خپل سفر په دوران کښې (د بابُ الاِسلام، سِندھ) د ضِلَع دادُو د يو کلي يو جُمات ته تلې وه، هلته مُؤَذِّن صاحِب موجود نه وو لِهٰذا پخپله ئې اذان اوکړو، چې کله د جَمعې وخت شو نو يو څو کسان لـمانځه له راغلل او مدَني قافلے والؤ ته ئې اُووئيل چې جَمعه هُم تاسو راکړئ [وَلے] چې دلته په جُمات کښې د جَمعې لـمونځ نه کيږي، هر سړے خپل خپل لـمونځ کوي ځکه چې په پوره کلي کښې يو کس هُم د کِيرې والا نشته چې اِمام جوړ شي.“

## جُمات اباد ساتل واجِب دي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! واقعي د عِبرت مُقام دے. د دُنيا په محبّت کښې ډير سپيره والے دے چې د دې مَصروفِيَّت د دغه کلي اوسيدونکي د الله پاک د عِبادت نه محرومه کړل او د الله تعالیٰ کور يعني جُمات شړ شو! ياد ساتئ! جُمات آباد ساتل د مَحَلّے [يعني ګاونډ] په مُسلمانانو باندې واجِب دي چنانچه په فتاویٰ رَضَوِيَّه شريف کښې د سابِقه [يعني د تير وخت د] شراب خرڅوونکو جوړ شوي يو جُمات په باره کښې سوال اوشو چې هغه هغوئي د توبه کولو نه پس په حلال مال جوړ کړے وو. د هغې په جواب کښې اعلیٰ حضرت، اِمامِ اهلِسُنّت، مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحمَةُاللهِعَلَيه په ”فَتاویٰ رَضَوِيَّه“ جِلد 8 صفحه 125 کښې فرمائي: هغه جُمات کوم چې هغوئي د توبه کولو نه پس په مالِ حلال جوړکړے دے بيشکه شرعي جُمات دے او په هغې کښې لـمونځ خو کيږي کيږي بلکه د دې په خوا و شا کښې اوسيدونکو باندې د هغې آباد ساتل واجِب دي، په هغې کښې پينځه وخته اذان و اِقامت، جَمعه او اِمامت

کول ضروري دي، که داسې اونکړي نو ګنهګار به وي او څوك چې په هغې کښې د لمانځه کولو نه منع کوي هغه به په هٔغه سختو ظالِمَانو کښې شمار وي دچا په باره کښې چې الله تعالیٰ فرمائي:

وَ مَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ مَّنَعَ مَسٰجِدَ اللّٰهِ اَنْ یُّذْكَرَ فِیْهَا اسْمُهٗ وَ سَعٰى فِیْ خَرَابِهَا ؕ (پ۱ البقرة: ۱۱٤)

مفهوم ترجمهٔ کنزُ الإيمان: او د هغه نه زيات ظالِم به څوك وي، چې منع کوي د الله د جُماتونو نه، په هغې کښې د هغه د نوم اغستلو نه او د هغې د شړَوَلو کوشش اوکړي. (فتاویٰ رَضَوِيّه ج۸ ص ۱۲۵)

# په ځنګل کښې جُمات

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د دې سره مُتَعَلِّق يوه خبره عرض کووم. چې په کوم ځائے کښې مسلمانان د سره هډو اوسيږي نه، په داسې شړ ځائے کښې جوړ شوے جُمات د سره هډو د جُمات په حُکم کښې نه دے چنانچه د يو سوال په جواب کښې اعلٰی حضرت، اِمامِ اَهلِسُنّت، مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په ”فَتاوٰی رَضَوِيَّه“ جِلد 16 صفحه 505 کښې فرمائي: چې کله دا خبره صحيح وي چې هغه ځائے نه شي آباديدلے او هغه جُمات به هُم په کار نه راځي نو هغه جُمات نه شو، هغه خښتې او روپۍ په بل جُمات کښې لګولے شئ، په ”عالمګيري“ کښې دي چې ”که چا په ځنګل يا شړه کښې جُمات جوړ کړو چې هلته څوك نه اوسيږي او د خلقو تيريدل هم په هغه ځائے کم وي نو هغه جُمات نه دے ځکه چې په هغه ځائے کښې د جُمات جوړولو حاجت نشته.“ (فتاویٰ عالمګيري ج ٥ ص ۳۲۰)

کرے مسجدیں جو بھی آباد مولیٰ
تُو رکھ اُس مسلمان کو شاد مولیٰ

چې کړي څوك جُماتونه آباد مولیٰ
ته کړې هغه مسلمان ښاد مولیٰ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د نهه غير مُسلِمو اِسلام قبلول

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! راشئ او په ټوله دُنيا کښې د نيکۍ د دعوت عام کولو درد لرُونکي "مَدَني تَحريك" يعني د تبلِيغِ قرآن و سُنّت عالـمګير غير سياسي تحرِيك، دعوتِ اسلامي مدني ماحول سره تړون اوکړئ او د "خپل ځان او د ټولے دُنيا د اِصلاح په کوشش" کښې مصروف شئ. د خپلې اِصلاح د کوشش کولو د پاره د مَدَني اِنعاماتو مطابق عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش د پاره د عاشِقانِ رسول په مَدَني قافِلو کښې سفر خپل معمول جوړ کړئ. ستاسو د ترغِيب او تَحرِيص [يعني د نيکو د حِرص زياتولو] د پاره يو خوشبوداره مدني سپرلے بيانووم. چنانچه د بابُ الاِسلام (سِندھ) د مشهور ښار حيدرآباد نه يوه د درې ورځو مَدَني قافِله "ټنډو آدم" ښار ته ورسيدله، په دريمه ورځ يو کس راغلو او د جُمات نه بَهر اودريدو او اميرِ قافِله سره ئې د ملاقات خواهِش ښکاره کړو، د ملاقات په دوران کښې هغه سړي اُووئيل چې زه غير مُسلِم يم او د اسلام ډير صِفَت ئې وکړو. اَميرِ قافِله چې د اسلام طرف ته د هغه خواهِش اوليدلو نو په هغه باندې ئې اِنفِرادي کوشش اوکړو، د هغې په بَرَکَت اَلْحَمْدُلِلّٰه هغه په لږ ساعت کښې اِسلام قبول کړو او وئيل ئې چې ما سره لا ړ شئ او زما د کور کسانو ته هُم د اسلام دعوت وړاندې کړئ. مَدَني قافلے والا د هغه کور ته لاړل او هغوئي ته ئې د اسلام دعوت وړاندې کړو، د هغې په بَرَکَت اَلْحَمْدُلِلّٰه د نهه کسانو

ټوله کورَنۍ مسلمانه شوه. اَمِيرِ قافِله هغه نوي مسلمان نه تپوس اوکړو چې ستاسو په زړه کښې د محکښې نه د دِينِ اسلام محبّت وو نو په مسلمانيدلو کښې مو دومره وخت ولے واغستو؟ هغه اُووئيل چې د کوم اسلام نه زه مُتاثِره شوے يم هغه په کتابونو کښې خو ليکلے شوے وو خو په موجوده مسلمانانو کښې نه ښکاريدو. چې کله مې د عاشِقانِ رسول د سُنّتو ډکه دا مَدَني قافِله اوليدله نو زما زړه دې طرف ته راښکودے شو او ما ستاسو د ناستې ولاړې جائِزه اغستل شروع کړل، زه د درې ورځو نه ستاسو کارونه [ناسته ولاړه] وِينم. په تلو راتلو کښې نظر ښکته ساتل، په مُسکا ملاقات کول، بيا ستاسو سپينې جامے، په سرونو د شنو عمامو تاجونه، په مخونو نُور، وغيره مې چې اوليدو نو په کتابونو کښې ليدلے حقيقي اِسلام ما ته ستاسو په کِردار کښې ښکاره شو. چې د هغې په وجه ما دا سوچ وکړو چې اوس د دوئي په لاس مسلمانيدل پکار دي. اَلْحَمْدُلِلّٰه د دې بيان ورکولو په وخت کښې نن صبا هغه نَوے مُسلمان شوے اِسلامي وررور په يو جُمات کښې مُؤَذِّن دے او مسلمانانو ته د نيکۍ او د لـمانځه دعوت هُم ورکوي او د هغوئې مَدَني ماشومان د دعوتِ اسلامي په مَدرَسَةُ الْمَدِينه کښې د قرآنِ کرِيم تعلِيم حاصلوي.

آيئے عاشِقين، مل کے تبلِيغ دِيں — کافِروں کو کریں، قافِلے ميں چلو
کافِر آجائيں گے، راہِ حق پائيں گے — اِنْ شَآءَاللہ چليں، قافِلے ميں چلو
کُفر کا سر جُھکے، دِيں کا ڈنکا بجے — اِنْ شَآءَاللہ چليں، قافِلے ميں چلو

عاشقانو راځئ، تول تبلِيغ چې د دِين — کافرانو ته کړو، قافلو کښې لاړ شئ
کافِران به راځي، حقه لاړ به مومي — اِن شآء الله راځئ، قافلو کښې لاړ شئ

سر د ڪُفر به شي ښکته، دبدبه د دِين اوچته        اِن شآء الله راځئ، قافلو کښې لا ړ شئ

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب!        صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د مَدَني قافِلے بَرَکت مرحبا!

سُبْحٰنَ الله! د مَدَني قافِلے بَرَکت مَرحَبا! ټول اسلامي وروڼړه هره مياشت ڪم نه ڪم درې ورځې او په ڪال کښې د يوې مياشتې مدني قافِله کښې عاشِقانِ رسُول سره د سُنَّتو ډك سفر سعادت ضرور حاصلوئ. په بيان کړے شوي خوشبوداره ښکلي "مَدَني سپرلي" کښې مَاشَآءَ الله د نهه غيرمُسلِمو د هِدايت موندلو او د اسلام لَمَن ته د راتللو ايمان تازه کوونڪي بيان دے. واقعي ډير بختور دي هغه اسلامي وروڼړه چې د چا په کوششونو څوك غير مُسلِمه د ڪُفر د تِيارو نه را اُوځي او د ايمان رنړا حاصِله کړي او يا يو مسلمان د ګناهونو نه توبه اوکړي او د سُنَّتو ډك ژوند تيرول شروع کړي.

يا رَبِّ مُصطفٰی! زمونږه بې حِسابه بخښنه اوکړې. مونږه د سُنّتو مُخلِص مُبَلِّغين جوړ کړې، پابندئ سره مَدَني قافِلو کښې د سفر کولو سعادت راکړې، په مَدَني اِنعاماتو د عمل کولو او نورو ته هم په مَدَني اِنعاماتو د عمل کولو د ترغيب ورکولو توفِيق راکړې.

نہ نیکی کی دعوت میں سستی ہو مجھ سے        بنا شائقِ قافلہ یا الٰہی        (وسائل بخشش ص ۸۵)

چې نه وي سُستي زما د نيکئ په دعوت کښې
شوقي جوړ کړے د قافلو ما يا اِلٰهي

اٰمِين بِجَاهِ النّبِيِّ الاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَـلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!        صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د خِضَر او اِلیاس عَلَيْهِمَا السَّلَام په باره کښې ښکُلې معلومات

سوال: حضرتِ خِضَر عَلَيْهِ السَّلَام نبي دے او که نه؟

اِرشاد: د جمهورو (يعني اکثرو) مذهب هُم دا دے او صحیح هم دا ده چې هغوئ نبي دے، ژوندے دے. (عُمدَةُ القاری ج٢ ص٨٤، ٨٥)

## انبیاءِ کرام عَلَيْهِمُ السَّلَام ژوندي دي

(بیا اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اُوفرمائيل) خلور نَبیان ژوندي دي چې هغوئ ته (د وفات په صورت کښې) وَعدهٔ اِلٰهِيّه تر اوسه پورې نه ده راغلې، داسې خو هر نبي ژوندے دے (ځنګه چې په حدیثِ پاك کښې راغلي دي): اِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ عَلَی الْاَرْضِ اَنْ تَاْکُلَ اَجْسَادَ الْاَنْبِیَاءِ فَنَبِیُّ اللّٰهِ حَیٌّ یُّرْزَقُ. يعني بيشکه الله (تعالٰی) حرام کړي دي په زمکه باندې چې د انبیاء (عَلَيْهِمُ الصَّلوٰةُ وَالسَّلَام) بدنونه خراب کړي نو د الله (تعالٰی) نبيان ژوندي دي [هغوئ ته] روزي ورکولے ليږي. (ابنِ ماجه ج٢ صفحه٢٩١ حديث١٦٣٧)

په انبياء عَلَيْهِمُ الصَّلوٰةُ وَالسَّلَام د یو مختصر وخت د پاره صرف د وَعدهٔ اِلٰهِيّه د تصدِیق د پاره مرګ راځي د هغې نه پس هغوئ ته بیا حقیقي حِسّي دُنياوي (يعني د دُنيا د ژوند په شان ژوند) ورکول شي. خير په هغه خلورو کښې دوه په آسمان کښې دي او دوه په زمکه دي. خِضَر او اِلیاس عَلَيْهِمَا السَّلَام په زمکه دي او اِدرِيس او عِیسٰی (عَلَيْهِمَا السَّلَام) په آسمان کښې دي. (تفسیرِ دُرِّ منثور ج٥ ص٤٣٢)

## هر کس به د مرګ خوند څکي

سوال: حُضور دي (خلورو) نبيانو ته به مرګ راځي؟

ارشاد: ضروربه راځي: (پاره 4 اٰلِ عِمران آيت 185 کښې دي) كُلُّ نَفْسٍ ذَآىِٕقَةُ الْمَوْتِ ؕ (مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: هر ساه لرونکے به مرګ څکي) (بيا ئې اُوفرمائيل) چې كله دا (يعني د سيپاره 27 سُورۂ رحمٰن) آيت (26) نازِل شو كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ۚ (مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: په زمكه چې څومره دي ټول به فنا [يعني ختم] كيږي) فرښتے خوشحاله شوے چې مونږه بچ شو ځكه چې مونږه په زمكه نه يُو. چې كله بل (يعني سيپاره 4 سورۂ اٰلِ عِمران آيت 185 نازِل شو) كُلُّ نَفْسٍ ذَآىِٕقَةُ الْمَوْتِ ؕ (مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: هر ساه لرونكے به مرګ څكي) نو فرِښتو اُووئيل چې اوس مونږه هم لاړو (يعني مونږ ته به هُم مرګ راځي) (رُوحُ البیان ج ۹ ص ۲۹۷، ۲۹۸، ملفُوظاتِ اعلیٰ حضرت ص ۴۸۳، ۴۸۵)

انبیا کو بھی اَجَل آنی ہے | مگر ایسی کہ فقط آنی ہے
پھر اسی آن کے بعد ان کی حیات | مثلِ سابِق وُہی جسمانی ہے
رُوح تو سب کی ہے زندہ اُن کا | جسمِ پُر نور بھی رُوحانی ہے

(حدائقِ بخشش شریف)

**شرحِ كلامِ رضا:** د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ذِكر كړے شوو شِعرونو خلاصه دا ده چې په سيپاره ٤ سُورۂ اٰلِ عِمران آيت ١٨٥ كښې راغلي د رَبُّ الْاَنَام جَلَّ جَلَالُه اِرشادِ كرامي "كُلُّ نَفْسٍ ذَآىِٕقَةُ الْمَوْتِ ؕ مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: هر ساه لرونكے به مرګ څكي." مطابق په انبياءِ كرامو عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام مرګ راځي خو فقط د يو ساعت د پاره، بيا د مخكښې په شان هغوئي ته رُوح بيرته وركړے شي. د هر انسان رُوح ژوندے اوسي خو د انبياءِ كرام مبارك بدن هم سلامت اوسي: په حدِيثِ پاك كښې دي: اَلْاَنْبِيَآءُ اَحْيَآءٌ فِيْ قُبُوْرِهِمْ يُصَلُّوْنَ يعني انبياءِ كرام عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام په خپلو قبرونو كښې ژوندي دي او لمونځ هم كوي. (ابو يَعلیٰ ج ۳ ص ۲۱۶ حدیث ۳۴۱۲) په يو بل

حدِيث پاك كښې دي: ”بيشكه اللّٰه پاک په زمكه باندې حرام كړې دي چې هغه د انبياءِ كرام بدنونه اُوخوري، د اللّٰه پاک نَبيان ژوندي دي او هغوئ ته روزي وركولے كيږي.“ (ابنِ ماجه ج۲ ص۲۹۱ حديث۱۶۳۷) هر نبي ژوندے دے، چې هر نبي ژوندے دے نو بيا به زما ګران ګران آقا، مَكّي مَدَني مُصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ولے ژوندے نه وي او عاشِقِ رسُول اعلٰی حضرت به په بارګاهِ رِسالت كښې په شوق او جذبه ولے عرض نه كوي چې:

تُو زنده ہے وَ اللّٰه تو زنده ہے واللّٰه
مرے چشمِ عالم سے چھپ جانے والے

(حدائقِ بخشش شریف)

**شرحِ كلامِ رضا:** اے زما د ظاهِرې او دُنياوي ستركو نه پټه او په ظاهِره ما ته نه ښكاره كيدونكيه زما خوږه آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! قسم په خدائے! تاسو ژوندي ئې، قسم په خدائے! تاسو ژوندي ئې.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د نيكۍ د دعوت وركوونكي تعرِيف

په قُرآنِ كريم كښې د اللّٰه تعالٰی فرمانِ عاليشان دے:

وَ مَنْ اَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَاۤ اِلَى اللّٰهِ وَ عَمِلَ صَالِحًا وَّ قَالَ اِنَّنِیْ مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ ﴿۳۳﴾ (پ۲۴، حٰمٓ السّجدة: ۳۳)

مفهوم ترجمهٔ كنزُالاِيمان: او د هغه نه زياته د چا خبره ښه ده خوك چې د اللّٰه طرف ته بلل كوي او نيكي كوي او وائي چې زه مسلمان يم.

د دې آيتِ مبارکه نه لاندې صدرُ الاَفَاضِل حضرت علّامه مولانا سَيِّد مُحمّد نعِيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه ليکي: حضرتِ عائِشه صِدّيقه رَضِيَ اللهُ عَنۡهَا فرمائي چې زما په نِزد دا آيت د مُؤَذِّن [يعني د اذان ورکوونکي] په حق کښې نازِل شوے دے او يو قول دا هُم دے چې څوك په هره طريقه د الله تعالیٰ طرف ته رابلل کوي هغه (يعني هر د نيکئ دعوت ورکوونکے) په دې کښې داخِل دے.

جو نیکی کی دعوت کی دھومیں مچائے
میں دیتا ہوں اُس کو دُعائے مدینہ

(وسائل بخشش ص ۱۵۲)

چې ورکوي د نيکئ ډير دعوتونه　　زه کووم د هغه د پاره دُعائے مدينه

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بهترين بنده خُصوصِيات

حُضُورِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو ځل په مِنبرِ اَقدَس باندې تشريف فرما وو چې يو صحابي عرض اوکړو: ”يارسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خلقو کښې د ټولو نه غوره څوك دے؟“ اوئې فرمائيل: په خلقو کښې هغه کس د ټولو نه غوره دے څوك چې په کثرت سره دَ قرآنِ کريم تِلاوت کوي،زيات مُتَّقي [يعني پرهيزګار] وي، د ټولو نه زيات د نيکئ حُکم ورکوونکے او د بدئ نه منع کوونکے وي او د ټولو نه زيات صِلهٔ رِحمي (يعني خپلوانو سره ښه سُلوك) کوونکے وي. (مُسنَد اِمام اَحمد ج۱۰ ص۴۰۲ حديث۲۷۵۰۴)

# تِلاوت، پرهيزګاري، د نيکۍ دعوت او صِلهٔ رِحمي

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د ډير زيات ثواب ګټلو په نِيَّت د بيان شوي حديثِ مبارك په رنړا کښي د "نيکۍ د دعوت" وړاندې کولو سعادت حاصِلووم. په دې رِوايت کښي د ټولو نه **غوره بنده** څلور خصوصيات بيان کړے شوي دي: (۱) په کثرت سره تِلاوت (۲) ډيره پرهيزګاري (۳) د ټولو نه زيات د نيکۍ دعوت ورکول او د بدو نه منع کول او (٤) خپلوانو سره ښه سُلوك کول. واقعي دا څلور واړه ډيرزيات ښه صِفَتونه دي الله تعالیٰ دِ ئې مونږ ته رانصيب کړي.اٰمين.د دې څلورو واړو فضائِل اُوګورئ: (۱) د حضرت سَيِّدُنا ابوهُريره رضی اللہ عنہ نه رِوايت دے چې رَسُولِ اکرم صلی اللہ علیہ والہ وسلم فرمائيلي دي: د قِيامت په ورځ به قرآن لوستونکے راشي نو قُرآن به عرض کوي: **يارَبّ** تعالیٰ! ده ته حُلَّه (يعني د جَنّت جامے) واغُونده نو هغه ته به د کَرامَت حُلّه (يعني د بُزرګۍ جَنَّتي جامے) واغوستَولے شي. قُرآن به بيا عرض کوي: "**يارَبّ** تعالیٰ! په دې کښي اِضافه [يعني زيات والے] اُوفرمايه،" نو هغه ته به د کرامت تاج په سر کړے شي. قُرآن به بيا عرض کوي:"**يا رَبّ** تعالیٰ! د ده نه **راضي** شه،" نو **الله** تعالیٰ به د هغه نه راضي شي. بيا به هغه قُرآن لوستونکي ته اُووئيل شي: قُرآن لوَلَه او د جَنَّت په درجاتو تيريږه، او په هر آيت به هغه ته يو نِعمَت ورکول شي. (ترمذی ج٤ ص٤١٩ حديث٢٩٢٤) (۲) پرهيزګارو ته په آخِرت کښي د کاميابۍ زيرے اَوروَلے شوے دے چنانچه په پاره ۲٥ **سُوْرَةُ الزُّخْرُف** آيت ۳٥ کښي اِرشاد کيږي: **وَ الْاٰخِرَةُ عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُتَّقِیْنَ ﴿۳۵﴾** مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: او آخِرت ستاسو د رَبّ سره د پرهيزګارو د پاره دے.(پ٢٥،الزُّخْرُف:٣٥) (۳) د حضرتِ سَيِّدُنا کَعبُ الاَحبار رضی اللہ عنہ اِرشاد دے:"جَنَّتُ الفِردَوس خاص د هغه کس د پاره دے خوك چې **اَمْرٌبِالْمَعْرُوف وَنَهْیٌ عَنِ الْمُنْكَر** کوي." (يعني د نيکۍ حُکم ورکوي او

د بدو نه منع کوي) (تَنبِيهُ المُغتَرِّين ص۲۳۶) (٤) فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے:که د چا دا خوښه وي چې د هغه په عُمر او رِزق کښې اِضافه اوکړے شي نو هغه ته پکار دي چې خپل مور او پلار سره ښه سُلوك اوکړي او خپلوانو سره صِلَةِ رِحمي [يعني ښه سلوك] کوي. (اَلتَّرغِيب والتَّرهِيب ج۳ ص۲۱۷ حديث ۱۶)

## د عُمر او رِزق زياتيدلو معنٰی

د دعوتِ اسلامي داِشاعتي ادارے مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه چاپ شوي د ۱۱۹۷ صفحو کتاب "**بهارِشرِيعت**" جِلد ۳ صفحه ۵۶۰ کښې صَدرُ الشَّرِيعه، بَدرُ الطَّرِيقه حضرت عَلَّامه مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ فرمائي: په حديث کښې راغلي دي چې "صِلۀ رِحم سره عُمر زياتيږي او په رِزق کښې وُسعَت (يعني فراخي) کيږي." بعضو عُلَماؤ د دې حديث ښکاره معنٰی مُراد اغستي ده. يعني دلته قضا مُعَلَّق مراد ده ځکه چې قضا مُبَرَّم مخکښې وروستو کيدے نه شي.[1]

اِذَا جَآءَ اَجَلُهُمْ فَلَا يَسْتَاْخِرُوْنَ سَاعَةً وَّلَا يَسْتَقْدِمُوْنَ ﴿۴۹﴾ (پ۱۱ يونس ۴۹)

مفهوم ترجمۀ كنزُ الاِيمان: چې کله د هغوئ وعده پوره شي نو يو ساعت به نه په شا کيدے شي او نه به په مخکښې تلے شي.

[1] دلته د قضا نه مُراد قِسمت دې. د قضا قِسمونه او د دې په باره کښې د تفصيلاتو زده کولو د پاره د **مكتبةُ المدينه** چاپ شوې بهارِ شريعت جلد اوّل د صفحه ۱۴ نه ۱۷ پورې ولولئ، خَصوصاً د **مَجلِسِ اَلمَدِينةُ العِلمِيه** د طرف نه ورکړې شوي حواشي بيمثاله او د بې شميره وسوسو عِلاج دې.

او بعضې (عُلَمائے کرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ السَّلَام) فرمائي چې د عمر زیاتیدو دا مطلب دے چې د مرګ نه پس هم د هغه ثواب لیکل شي لکه هغه چې اوس هم ژوندے دے یا دا مُراد دے چې د مرګ نه پس هُم د هغه ذِکرِ خیر په خلقو کښې پاتې وي. (رَدُّالمُحتارج ۹ص ۶۷۸)

## سمدستي ئې د ترور سره روغه اوکړه

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** نن صبا په خبره خبره خلق د خپلو سره کور پرېږدي، لِهٰذا په خپل مینځ کښې د مَحَبّت قائِمولو د خواهِش په ښه نِیَّت او د نور ثواب ګټلو د پاره خپلوانو سره د ښه سُلوك په باره کښې د نیکۍ د دعوت په ذریعه نور **مَدَني ګلونه** وړاندې کووم: **حضرت** سَیِّدُنا ابو هُریره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ یو ځل د **سرکارِ مدینه** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حدیث بیانولو، په دې دوران کښې ئې اُوفرمائیل: هر قاطِعِ رِحم (یعني خپلوانو سره تعلُّق پرېښودونکے) دِ زمونږ د **محفِل** نه پاځي. یو ځلمے پاځیدلو او خپلې ترور کره لاړو چې هغې سره د هغه د ډیرو کلونو زوړ خفګان وو، چې کله دواړه د یو بل نه راضي شو نو هغه ځلمي ته ترور اُووئیل: ته لاړ شه او د دې سبب معلوم کړه، چې آخِر داسې ولے اوشو؟ (یعني د سَیِّدُنا ابو هُریره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د اعلان څه حِکمت دے؟) ځلمے چې کله حاضِر شو او تپوس ئې اوکړو نو حضرتِ سَیِّدُنا ابو هُریره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اُوفرمائیل چې ما د **حُضورِ انور** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا اوریدلي دي:"په کوم قوم کښې چې قاطِعِ رِحم (یعني خپلوانو سره تعلُّق پرېښودونکے) وي، په هغه قوم باندې د الله تعالیٰ رَحمت نه نازِلیږي." (اَلزَّوَاجِرُ عَنِ اقْتِرافِ الْکَبَائِر ج ۲ ص ۱۵۳)

# د خواښې او هِنګور په مينځ کښې د صُلحې راز

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** تاسو اوليده! پخواني مسلمانان خومره خوفِ خُدا لرونکي وو! خوش نصيبه ځلمے د **الله** تعالیٰ د ويرې په سبَب فوراً خپلې ترور کره حاضِر شو او د صُلحې [ يعني کور روغولو] ترکيب ئې اوکړو. ترور ته پکار دي چې غور اوکړي چې په خاندان کښې مې د چاء، چا سره څه نه څه کور وران دے که داسې وي نو بيا که شرعي عُذر نه وي نو فوراً د خاندان خفه کسانو سره د "روغې جوړې" ترکيب شروع کړئ.که زاري او عاجزي کول درته پکښې پيښ شي هُم نو زاري او عاجزي اوکړئ. اِنْ شَآءَالله عِزّت به مومئ. **فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: مَنْ تَوَاضَعَ لِلّٰهِ رَفَعَهُ اللّٰه يعني څوك چې د **الله** تعالیٰ د پاره عاجِزي کوي **الله** تعالیٰ هغه ته اوچت والے [يعني عِزّت] ورکوي. (شُعَبُ الإيمان ج٦ ص٢٧٦ حديث٨١٤٠) خپله کورنۍ او معاشره کښې د **امن** قايمولو د پاره د دعوتِ اسلامي خوشبودار مَدَني ماحول سره ترون اوکړئ او هره مياشت کم نه کم د درې ورځو د پاره په **مدني قافله** کښې د سُنَّتُو ډك سفر هُم کوئ او د **مَدَني اِنعاماتو** مطابق خپل ژوند تيروئ. ستاسو د ترغِيب او تَحرِيص [يعني د نيکۍ د حِرص راپيدا کولو] د پاره يو **مَدَني سپرلے** وړاندې کووم، هغه دا چې د **بابُ المَدينه** (کراچۍ) د يو اِسلامي ورور د بيان خُلاصه ده چې د ډيرې مودے نه زما د مور او ښځې يعني د **خواښې او هِنګور** په مينځ کښې ډيرې جَګړې کيدلې، آخِر دا چې ښځه مې **خفه شوه** او لاړه پلار کره کښيناستله. زه ډير زيات پريشانه ووم، نه پوهيدم چې دا مسئَله څنګه **حل** کړم. په دې دوران کښې د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارے مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه جاري کړے شوې د "مَدَني مُذاکرے" **وي سي ډي** (VCD) "*گھر امن کا گہوارہ کیسے بنے!*" [يعني "کور د اَمن ځائے څنګه جوړ شي"] په لاس راغله. چې موضوع مې اولوستله نو په ډير اُمِّيد مې دا **وي سي ډي** پخپله هم اوکتله او خپلې والِده مُحترمې ته مې هُم اوښودله او يوه **وي سي ډي** مې خپلې سخرګنۍ ته اوليږله. زما د والِده صاحِبه هغه **وي سي ډي** دومره **خوښه** شوه چې هغې دوباره اوکتله او ما ته ئې

اُوفرمائيل: ”**راځه ځويه چې ستا سخرګنئ کره لاړ شو**“ زه ډېر حيران شوم او د اطمِينان ساه مې واغستله او په سوچ کښې پرېوتم چې راته ښکاري کوم کار چې ما د ډېر زيات اِنفِرادي کوشش باوجود اونکړے شو هغه دې **وي سي ډي** اوکړو. زما سخرګنئ ته چې لاړو نو والِده صاحِبه په ډېر **مَحَبّت** زما ښځه **رضا** کړه او بيرته ئې ځان سره کور ته راوستله. هم دغسې زما ښځې هم ښه سلوك ښکاره کړو او کور ته د رارسيدلو په دويمه ورځ ئې خپلې خوابنې (يعني زما مور) ته اُووئيل چې مورې زما کوټه ډېره غټه ده او د کور نور کسان چې په کومه کوټه کښې اوسيږي هغه لږه وړه ده،تاسو زما کوټه واخلئ او زه به په هغه وړه کوټه کښې اوسيږم. زمونږه کور چې په جَګړو او فسادونو کښې اخته وو، اَلۡحَمۡدُلِلّٰه د دعوتِ اسلامي په بَرَکت ”**د اَمن ځائے**“جوړ شو. (د مَدَني مُذاکرے ذِکرکړے شوي **وي سي ډي** ”**گھر امن کا گہوارہ کیسے بنے!**“ د مَکتبةُ المَدينه نه هديةً اغستے شئ او د دعوتِ اسلامي په ويب سائِټ www.dawateislami.net ئې کتلے او اوريدلے هم شئ)

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

# د غُسل ضروري مسائل

د دُرود شريف فضيلت.......................................... 3
د غُسل درې فرائِض.......................................... 5
﴿١﴾ خُله وينځل (يعني په خُله کښې اوبه اچول).................. 5
(٢) په پوزه کښې اوبه خيژول.................................. 6
(٣) په ټول ښکاره بدن باندې اوبه بهيول.......................... 6
په روانو اوبو کښې د غُسل طريقه.............................. 6
فَوّاره د جاري اوبو په حکم کښې ده.............................. 7
دَ فَوّارې احتياطونه.......................................... 7
د W.C رُخ صحيح کړئ.......................................... 8
غُسل کول کله سُنّت دي؟........................................ 8
په باران کښې غُسل.......................................... 9
د تنګ لِباس والا طرف ته کتل څنګه دي؟.......................... 9
په بربنډه لامبلو کښې ډير احتياط.............................. 9
په بالټې د لامبلو په وخت کښې احتياط.......................... 9
ټول کلے کِيره خَرَئيلے!........................................ 10
جُمات اباد ساتل واجِب دي.................................... 10
په ځنګل کښې جُمات.......................................... 11

د نهه غیر مُسلِمو اِسلام قبلول......................................... 12
د مَدَني قافِلے بَرَکت مرحبا!.............................................. 14
د خِضَر او اِلیاس عَلَیۡہِمَا السَّلَام په باره کښې ښکُلې معلومات.......... 15
انبیاءِکرام عَلَیْهِمُ السَّلَام ژوندي دي........................... 15
هر کس به د مرګ خوند څَکِي............................................ 15
د نیکۍ د دعوت ورکوونکي تعرِیف................................... 17
د بهترین بنده خُصوصِیات .................................................. 18
تِلاوت، پرهیزګاري، د نیکۍ دعوت او صِلهٔ رِحمي................. 19
د عُمر او رِزق زیاتیدلو معنٰی ................................................ 20
سمدستي ئې د ترور سره روغه اوکړه ..................................... 21
د خوابښې او هِنګور په مینځ کښې د صُلحې راز.................. 22

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نيك او لمونځ ګزاره جوړېدو د پاره

هر زيارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښائے کښې کيدونکي د دعوتِ اِسلامي د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نيتونو سره توله شپه تېروئ ❁ د سُنّتو د تربيّت د پاره **مَدَنِي قافِلو** کښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فِکرِ مَدِينه**" په ذريعه د **مَدَنِي اِنعاماتو** رساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په ېکم تاريخ ئې د خپل ځائے ذمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد:** "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي." اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "**مَدَني انعاماتو**" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "**مَدَني قافِلو**" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ








فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (کراچئ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com